SESAME STREET

سسمی بنه راغلاست

# ډبرې چېرته دي



کیسه: هیا منصوره

انځورونه: صلاح الرحال

# ډېرې چېرته دي؟

کیسه: هیا منصوره
انځورونه: صلاح الرحال



## ډېرې چېرته دي؟

ژبه: عربي
لومړی چاپ ۲۰۱۹

SESAME STREET

## سسمی ښه راغلاست

ښه «راغلاست سمسم» دا یوه مخکښه پروژه او نوښتي پروګرام دی چې د سمسمی ورکشاپ مؤسسې یې
پلی کوي او پر مخ وړي (International Rescue Committee) د ژغورنې نړیواله کمیټه
او (Sesame workshop). دا پروګرام د کوچنیانو او له شخړو څخه اغېزمنو شویو ته د پالنې وړاندې کوونکو
لپاره لومړی پالنه او زده کړه وړاندې کوي او همدا رنګه په منځنۍ ختیځ کې د بې ځایه شویو لپاره. دا مشهور
پروګرام د نوې سیمه ییزې نسخې د نشرولو له لارې هغه چې د «ښه راغلاست سمسم» او تر څنګ یې د
(Sesame Street) «سسمي ستریت» نوم لري په عراق، اردن، لبنان، او سوریه کې نېغ په نېغه پراخو ټولنو
ته، نو د دې پروګرام موخه په هر ځای کې کوچنیانو ته رسېدل دي چې پیل یې د ټولګیو له خونو کېږي او
د روغتیايي مرکزونو نه نیولي تر تلویزیون او د ګرځنده تلیفون تر وسایلو رسېږي؛ تر څو هغوی ته بنسټیزه
تعلیمي محتوا وړاندې کړي، هغه چې دوی ورته په سخته اړتیا کې دي؛ د نېکمرغۍ او سوکالۍ د پلې کېدو
لپاره. او دا پروګرام چې تمویلونکي یې دي د (جون د. او کاترین ت. ماک ارتر (John D. او Catherine T.
MacArthur Foundation) او لیګو مؤسسه (LEGO Foundation) او
یوازینۍ موخه یې دا نه ده چې بېړنیو اړتیاوو او په راتلونکي کې د سوکالۍ لپاره پیاوړی بنسټ جوړ کړي، بلکه
ټوله نړۍ کې د انساني ناورینونو په وړاندې د ځواب ویلو د نظام د بدلون د شونتیا لید هم لري.

Room to Read®

«د لوست خونه» د مهارتونو په پیاوړتیا کې تخنیکي مرسته وړاندې کوي
د کوچنیانو سره لوست او د انجونو زده کړه. د زیاتو معلوماتو لپاره
www.roomtoread.org



سجاد له خپلو ګاونډیانو او نویو ملګرو سره لوبې کول خوښوي. د فوټبال لوبه کوي. په سایکلونو د سپرېدو سیالي کوي. موسیقي غږوي او سندرې وایي.

تیتانور کرار ناسته ده د وړیو د خولۍ په اوبدلو بوخته ده، بیا سجاد ته ګوري او وايي
«اه...څومره مې خپل پخواني کور ته زړه کېږي! د خپلې شنې بحيرې د اوبو شړار ته مې شوق کېږي».
«خپلې خندا او خبرو ته مې زړه کېږي چې مور به د هغې په شا اوخوا کې ناست وو.
هغه وختونه څومره ښکلي وو».






سجاد فکر وکړ او ويې ويل: «تا درک کولای شم».
زه هم کله ناکله دا احساس کوم. سجاد وغوښتل چې تیتانور
خوشاله وي. ټوپ يې کړو او ويې ويل: «زه يو نظر لرم».







سجاد یوه سپینه پاڼه پیدا کړه، او په هغې یې د شنې بحیرې انځورول پیل کړل. بیا یې د هغو شیانو یو لست ولیکه چې په جوړولو کې یې ورته اړتیا درلوده. سبا ورځ، سجاد وختي راووت تر څو ګردې ډبرې پیدا کړي. د لسو ډبرو په راټولولو بریالی شو، د کور په دروازه کې یې کېښودې.





تیتانور د ډبرو په لیدلو حیرانه شوه
چې د کوچني کور په دروازه کې یې پرتې وې،
او ویې پوښتل:
«سجاد د ورځې له پیل څخه مصروف دی.
ایا دا ولې راټولوي دا ټولې ډبرې؟ په دې به
څه کوي؟»



څو ساعته وروسته چې سجاد راستون شو او ډبرې یې
وشمارلې، هغه اوه وې. «یوازې اووه»
په حیرانتیا یې وویل: «ډبرې چېرې دي؟ ډبرې چېرته دي؟»



سجاد کور ته راغلو او تیتانور یې خبر کړه:

«ته راشه وګوره. یو چا زما له ډبرو درې اخستي».

تیتانور له هغه سره ووته، خو هغې یوه ډبره هم ونه موندله!

سجاد ناهیلی شو، او یو ځل بیا یې وویل:

«ډبرې چېرته دي؟» «ډبرې چېرې دي؟»



سجاد خپلو ملګرو ته غږ وکړ، ټول راغلل.

هادي وویل: «څه درسره شوي، سجاده؟»

سجاد ځواب ورکړ: «زه د ناهیلۍ احساس کوم».

هادي وویل: «موږ ټول کله ناکله د ناهیلۍ
احساس کوو، ژوره ساه واخله، سجاده.
او تر لسو شمېره وکړه او بیا ماته کیسه وکړه».





۱، ۲، ۳، ۴، ۵، ۶، ۷، ۸، ۹، ۱۰.

بیا سجاد ارام شو او ويې ويل:

«ما لس ډبرې راټولې کړې وې، خو پټې شوې.

ايا اسمان ته والوتې که په هوا کې ویلې شوې

او که د ورکېدو خولۍ يې واغوسته؟»



بسيمه وويل: «زه متاسفه یم سجاده. درې ډبرې ما اخستي دي،
هغه مې په ښکلو رنګونو رنګ کړې چې خپله خونه پرې ښايسته کړم».



کبکي په ادب سره رامخکې شو او ويې ويل: «موږ ټول متاسف يو سجاده.
زه او غرغور او حسون، موږ ټول غوښتل د «اووه ډبرې» لوبه وکړو.
پنځه راسره کمې وې، هغه مو له دې ډېري واخستې
نه پوهېدو چې ستا سره يو نظر دی
او غواړې خپل نظر په دې
ډبرو عملي کړې».

المو وويل: «زه هم متاسف یم. ما
دوه ډبرې د ياسمين بوټي خواوشا کې
کېښودلې چې هغې ته تکيه ورکړي»

سجاد وویل: «ستاسې نظرونه ښه دي، بیخي زما په څېر».





سجاد دوی د شنې بحیرې د جوړولو له نظره خبر کړل، د هغې په شان چې د دوي په پخواني کور کې وه، تر څو تیتانور خوشاله شي. ټولو یو بل ته وکتل، او بیا یو په یو له دې ځایه ولاړل.

بسیمه درې ډبرې راوړې، غرغور او کبکي او حسون پنځه ډبرې راوړې. او کله چې المو غوښتل دوه ډبرې راوړي، سجاد ورته په مینه وویل: «نه المو، نه غواړم چې ستا بوټی راوغورځي».



ټولو ماشومانو په شریکه ډېرې ډبرې پیدا کړې، او یوه ښکلې شنه بحیره یې جوړه کړه کله چې بحیره ډکه شوه، بیا یې ملګري د هغې په شا او خوا کې راټولېدو ته راوبلل. له اوبو ډکه شوه، سجاد غږ کړ:

«تیتانور راشه! ستا لپاره د حیرانتیا څه لرم».



## ډېرې چېرته دي؟

سجاد ولیدل چې تیتانور د یو څه له امله خفه ده، ویې موندله چې د هغې خپل زوړ کور، او د شنې بحیرې اوبه یاد شوي دي، کوم چې د کورنۍ او ملګرو د راټولېدو ځای و. سجاد باور لري چې هغه سره داسې نظر شته چې نوموړې به خوشاله کړي. څه فکر کوئ چې سجاد سره د حیرانتیاً څه دي چې چمتو یې کړي او له خپلو ملګرو سره یې پلي کړي دي

تر څو تیتانور خوشاله کړي؟




**هیا منصوره**

اردنۍ لیکواله او د عربي ژبې ښوونکې ده، په ښوونیزو نصابونو کې د فکر کولو د مهارتونو د ځایولو ماهره ده. دا د «التعلیم خارج الصندوق بین النظریة و التطبیق کتاب لیکواله ده». د کوچنیانو د ادبیاتو برخه کې یې نور کتابونه هم لیکلي



**صلاح الرحال**

یو عراقی هنرمند دی چې په بغداد کې یې د ښکلو هنرونو له انستیتیوت څخه د ګرافیک په هنر کې دیپلوم تر لاسه کړی. کله چې هغه محصل و، نو د «مجلتي» په نوم یې د ماشومانو لپاره له عراقي مجلې سره د انځورګر په توګه کار کاوه. اردن ته ولاړ، او د ځینو لیکوالو او خپرونکو سره یې کار ته دوام ورکړ.له اردنیانو سره اوس په بغداد کې ژوند کوي، او تر اوسه د خپلواک انځورګر په توګه کار کوي.



## ډېرې چېرته دي؟

سجاد ولیدل چې تیتانور د یو څه له امله خفه ده، ویې موندله چې د هغې خپل زوړ کور، او د شنې بحیرې اوبه یاد شوي دي، کوم چې د کورنۍ او ملګرو د راټولېدو ځای و. سجاد باور لري چې هغه سره داسې نظر شته چې نوموړې به خوشاله کړي. څه فکر کوئ چې سجاد سره د حیرانتیا څه دي چې چمتو یې کړي او له خپلو ملګرو سره یې پلې کړي دي

تر څو تیتانور خوشاله کړي؟

### په لوستلو د پوهېدو پوښتنې

**له لوستلو مخکې (دوی ته د کتاب پوښ وښایه)**

١. په دې کتاب کې د کومې کیسې تمه لرئ؟

**د لوستلو پر مهال (د ١١ پاڼې پای)**

٢. ستا په ګومان ډبرو ته څه ورپېښ شول؟

**له لوستلو وروسته**

٣. کله چې ډبرې ورکې شوې سجاد څه ډول احساس وکړ؟
٤. د ډبرو د ورکېدو له امله چې کله سجاد ناهیلي احساس کړه بیا څه شي له هغه سره مرسته وکړه چې غلی شي؟
٥. تیتانور د کیسې په پیل کې څه احساس کوي؟
٦. ستا په باور د کیسې په پای کې د هغې احساس څه ډول و؟
٧. له تیتانور سره څه شي مرسته وکړه چې ښه احساس وکړي؟

123 SESAME STREET

سسمی ښه راغلاست

ISBN 978-9957-539-49-8